


لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

بخلیک [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د مورمېږه

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - ورى / کال ۱۴۰۵

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

برېښنالیک: atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

................

# لړلیک

**سرلیک** | **چوپړی**


پخښتی.......................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................................ ۲
لیکي پوهه:...................................................... ۳
لړلیک ........................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)............................................ ٥
د یادښتونو له پاره:................................................ ۷
ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) .................................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لېست.......................................... ٦٠
د کار لاندې کتابونو لېست ......................................... ٦٤
د امکان او وخت په صورت کې........................................ ٦٥
د پخښتی څټ ..................................................... ٦٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

## تراڼ (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجوديت، د ناخاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يوه بل حقيقي داستان يا ناول چې کيسه يې په هېواد کې د ننه، د کونړ(کنړ) ولايت په دانګام ولسوالۍ کې تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره ګډه (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

**پاکه ربه!**

زمونږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو مونږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زمونږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونې:**

- د نظر تېولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.
- د پخښتۍ انځور د ګوګل سایټ نه، د ناول(داستان) په پام کې نیولو (پرتله، مطابقت) سره اخیستل شوی دی.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکتر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ........................................................................

۷- ........................................................................

۸- ........................................................................

۹- ........................................................................

۱۰- ......................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

بادام ګل پنځه شپېته کاله وړاندې، په یوې بې وزلې او بې زده کړې کورنۍ کې، دې دنیا ته، سترګې و غوړوې.

کوم وخت چې هغه دنیا ته راغی، د ناینې (ډم، نایي، سلمان، بر بر، بربر) ښځې د هغه مور ته بادام د ونې څانګه ور کړه.

په داسې وختونو کې د سیمې دود سره سم، ناینې د ماشوم کورنۍ غړو ته ګلان، ورکوي.

مګر!

په دې وخت کې، هیڅ ګل نه و.

د پاچا ښځې هم پر الک، بادام نوم کېښود.

د بادام مور نوم یې اوا (هوا) او د پلار نوم یې علم و.

خلکو به د هغه پلار ته، له مړندو، پاچا ویل.

بادام د خپلې کورنۍ، لمړی ماشوم و.

د هغه د کورنۍ روزګار ډېر وران (خراب) و.

نه یې غوا درلوده او نه یې خوسی.

نه یې پوله درلوده او نه یې هم پټی.

کورنۍ یې د یوه خان په کلا او یوې تیارې (ترکمۍ)، کوټې کې، ژوند کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مور مېړه

.................

کوټې، يواځې د لرګي دروازه اوهمدا راز، رڼا له پاره يې کوشنۍ مورۍ په بام کې درلوده، چې په اوسني وخت او معمارۍ کې، ورته چت رڼا (سکای لایت) وايي.

د مورۍ نه به رڼا راتله او د باران د ورېدو په وخت کې به ځاکي کوټې ته غورځېده او نيمځی به يې لوندېده.

بيا به د هغه مور، نيمځی ټولاوه او په بام کې به يې لمر ته اواراوه، تر څو وچ اوبېرته يې په کوټې کې اوار کړي.

د پسرلي په بارانونو کې به يې مورۍ د پاسه د کټوې غبر ګولی اېښوده ، تر څو د باران ځاځکي کوټې ته پر نيمځي و نه غورزېګي، چې بيا د لمر نه شتون له کبله، نيمځي به يې لوند او د وچوېدو امکان به يې هم ژر، نه وي.

مګر دا کار، د رڼا مخه نيوه (بندوه) او کوټه به ټوله تياره وه، هغوی به ناچاره وو تر څو د رڼايي له پاره دروازه خلاصه پرېږدي.

په دې وخت کې به د هغه کوټې ته، کلي چرګان هم ننوتل، نغري شاو خوا به ګرځېدل، او کله به يې د غلې د کندو پر سر کېناستل، بيا به اوا مجبوره شوه، اوږده لکړه به يې واخيسته او چرګان به يې د کوټې نه وېستل.

د کوټې په يوه کونج (کنج) کې يې زړه بستره او په بل کونج کې يې د ختوکندو، دکاليو لرګي صندوک (صندق) او ګړمچي، شتون درلود.

نغری د کوټې په منځ، مورۍ لاندې او تر خوا يې څه مات شوی لرګي او وچوکي، پراته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

هغوی څه لوښي درلودل او منځلو نه به يې وروسته لمر ته ايښودل، تر څو وچ شي، بيا به يې پر ګړمچي ايښودل.

په لوښو کې د ختو کټوه، غبرګولی، لرګي څمڅی، مسيني کاسې، يوه مسينه مجمه، يوه تور چايجوش (چايير)، د اوبو جام، څو چيني زړې او پتره (پطره) شوې پيالې، کوزه او چلمچي وو.

ګړمچي ته جوښت، د لرګو څنده ماتی راشپېل، زوړټکک لرونکی بيل او غاښ ماتی کوږ بيل (کج بيل) ايخښی وو.

هم دا راز يې د کوټې په دېوال کې، د لرګيو مېوګي ټکوهلي او په هغو کې به يې لور، رسي، چج او تبرګی زوړند کړی او د اړتيا په وخت کې به يې، ترې کار اخيست.

د کوټې په يوه دېوال کې، کوشنۍ تاخچه (طاقچه) هم وه چې په هغې کې به يې د تېلو پخوانی څراغ چې د خلکو په منځ کې په شيطان څراغ هم مشهوره دی، ايښوده.

پلار به يې غنمو لو، درمند بادونه، لرګي ماتول، په ځمکو کې خېشاوه، پولې وهل، بياله (وياله) وېستنه، د شولو نيال (کېنونه) او داسې نورې مزدورۍ به يې، کوې.

مور يې په کاله کې د ورځنيو دندو(کارونو) کې بوخته وه او تر څنګ به يې، په لاس د ماشومانو کالي هم، ګنډل.

کله نا کله به يې د خان او د نورو د کورونو کالی، لويې بيالې ته وړل، البته به يې پر درغنې ايښودل او د څوباړي په مرسته به يې مينځل.

مينځلو نه وروسته به يې لمر ته د شولو پر واښو، اوارول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

اوچېدو نه به يې وروسته، د خان له کوره درونډ سکروټو اوتو(اتو) اخيست او کالی به يې هم ښويول (اتو کول) بيا به يې کاتول (قاتول) ، په ټوکر کې به يې ايښودل، غوټه کول او د خان کور ته به يې د اتو سره، وړل.

ژوند تېرېده او د رڼا، کوم څرک هم نه لګېده.

مور او پلار به يې تل سوچ کوه چې، له دې بد مرغۍ (بد بختۍ) څخه خلاص شي.

د هغوی دواړو کورنيو مشران يا نې پلارونو او نيکونو يې هم څه نه درلودل او د دوی په شان د غريبۍ سره، مخ و.

دا د بېوزلۍ ميراث له نيکونو زامنو، لورګانو او لمسيانو ته، ور په برخه شوی و.

د بادام د پيداينست په شپه د هغوی په کور کې د تېلو څراخ، غوړ او يا تيل هم لږ، ول.

د هغه په زېږېدو کې د کلي ناين (ډم، نايي، دلاک، سلمان، بر بر) ښځې ګډون کړی و.

د ماشوم د پيداينست نه وروسته د ناينې ښځې د ماشوم نو (ناف) هم پر چاړې، پرې کړ.

علم (پاچا) هم د ځای د نه شتون له کبله، شپه يې د جومات په وجرې (حجرې) کې، تېره کړه.

سهار وختـه خلک د لمانځه د پاره جومات ته په راتلو، پيل کړ. اوا(هوا) لږ تياره (ترکمۍ) وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

پاچا هم ټوله شپه، خوب نه و، کړی.

هغه خپلې سترګې و مښې او لنګوټی یې له سره خلاص، خولې یې سمه او لنګوټی یې له سره وتاړه( و واهه) او د جومات نه د اودس په نیت و وت.

هغه ویالې ته روان شو، تر څو اودس وکړي.

د هغه مخې ته د ناین (ډم، نایي، دلاک، سلمان، بر بر) زوی راغی او په وارخطایي یې د بادام د ونې ځانګه ماته ( وشکوه)، پاچا ته یې په لاس کې ورکړه او هغه ته یې، و ویل:

اوس ستا د کوټې تر مخ تېرېدم، مورمې ولیدم.

هغې، ما ته و ویل:

پر پاچا زېری، وکړه!

هغه ته، خدای زوی ورکړی دی.

اوس ستا په لیدو سره مې سم د ونې شنه ځانګه وشکوه، ګلان خو هسې هم نه شته، تا ته مې د شګوم او مبارکی په دود درکړه.

په دې وخت کې شاو او خوا ګلان نه وي.

باید په داسې خوشحالیو کې ګل، د زېری په توګه ورکړ شي.

بله لاره نه وه.

ځکه مې داسې پرېکړه، وکړه.

خدای دی تا ته، نیک صالح لوی او ستا اوږه پرې سپکه، کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

پاچا ډېر خوشحاله، شو.

د هغه نه يې مننه وکړه.

بيا بيالې ته د اوس له پاره لاړ.

اودس يې وکړ او په تلوار سره يې ځان جمعې ته، ورساوه.

لمونځ يې په جمع ادا کړ.

د دعايې نه وروسته د نايې (ډم، نايي، دلاک، سلمان، بر بر) زوی پر ملا امام غږ کړ.

هغه و ويل:

ملا صيب!

پاچا ته، خدای زوی ورکړ.

دهغه له پاره هم دوعا وکړه!

ملا امام هم لمړی پاچا ته مبارکي و ويل او ورسته يې هغه ته دوعا وکړه.

خلکو، ټولو آمين و ويل.

بيا په وتلو کې به هر چا، پاچا ته مبارکي ويل او د جومات نه به، وتل.

وروسته تر ټولو ملا امام هغه ته د دوېيم ځل له پاره مبارکې و ويله او د جومات نه، کور ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

په دې وخت کې پا چا هم د جومات نه و وت او د جومات دروازه يې د باندې خوا نه، ځنځير(کلکه) کړه.

هغه په خوشحالۍ سره کور ته، ستون شو.

بيا يې د کوټې دروازه وټکوه.

د نايې (ډم، نايي، دلاک، سلمان، بر بر) ښځې غږ کړ:

څوک يې؟

پاچا و ويل:

زه يم، خورې!

هغې و ويل:

سمه ده!

د ننه، راشه!

تا سره مې لږ، کار و.

د نايې (ډم، دلاک، سلمان، بر بر) خپل مخ په پلو وپوښاوه او هغه ته يې مبارکي، ورکړه.

هغه هم د نايې (ډم، نايي، دلاک، سلمان، بر بر) ښځې نه، مننه وکړه.

بيا د نايې (ډم، دلاک، سلمان، بر بر) ښځې و پوښتل:

په کور کې اوړه لرې؟

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

لږ صبر وکړه.

زه به يې د کندو په تل(بيخ، لاندې) کې، وګورم.

هغه د اوړو کندو ته نږدې شو.

بيا لاس يې بېواهه او د کندو د سر نه لاس د ننه کړ.

څه يې په لاس و نه لږېدل.

بيا يې و ويل:

د پاسه خو په لاس کې، څه نه لږېږي.

بيا کښېناست.

لاس يې د کندو سوري (خولې) نه د ننه کړ.

لږ اوړه پاتې و.

د ناين ښځې ته يې و ويل:

هو!

څه خو، شته.

هغې و ويل:

لويه کاسه واخله او اوړه په کې واچوه.

هغه هم لويه کاسه له ګړمچي نه راواخيسته او څه اوړه يې په کې واچول.

کاسه يې د ناين ښځې ته، ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

هغې په نغري کې اور، بل کړ.

کټوه يې پر اور کېښوده.

د چايجوش نه يې اوبه په کټوې کې واچوې.

بيا يې اوړه په کټوې کې واچول او پاچا ته يې، و ويل:

دوې چکۍ ګوړه (ګړه) راکړه.

پا چا و پوښتل:

پر ګوړې (ګړې) څه کوې؟

هغې و ويل:

ګوړه په کټوې کې اچوم او د اوا (هوا) له پاره شيره جوړم.

پا چا هک پک شو.

هغه و ويل:

يوه اونۍ کيږي چې زمونږ ګوړه خلاصه شوې ده.

مونږ د اخيستو توان يې هم نه درلود.

هغې و ويل:

ستونزه، نه شته.

زمونږ کور ته، لاړ شه!

زوی ته مې و وايه چې دوې چکۍ ګوړه پور، در کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

ژر یې ما ته راوړه.

هغه هم د کوټې نه د باندې شو.

د نایې کور ته لاړ او دروازه یې وټکوه.

د نایې مشر زوی د کور دروازه خلاصه او پا چا ته یې سلام  ورکړ.

پاچا هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا پا چا و ویل:

ستا مور، زه یې د دوې چکۍ ګوړې پور له پاره ، دلته را لیږلی یم.

ګوړه راکړه چې ستا مور، زما د ښځې له پاره شیره جوړه ی.

هغه و ویل:

سمه ده!

ژر به یې راوړم.

ته دلته دروازې تر څنګ (شا) ودرېږه!

پاچا د دروازې ترڅنګ (شا) ودرېد.

د نایې زوی، کور ته د ننه شو.

څو دکیکې (دقیقې) وروسته، بېرته راغی.

دوې چکۍ ګوړه یې په لاس کې نیولې او پا چا ته یې ورکړه.

پا چا هم د هغه نه، مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

بیا، خپلې کوټې ته روان شو.

کوټې ته د ننه او ګوړه یې د نایې ښځې ته ورکړه.

هغې ګوړه واخیسته او په کټوې کې یې واچوه.

بیا یې هغه ته، و ویل:

دلته نغري ته، نږدې شه!

پاچا نغري ته، نږدې شو.

هغې ورته د شیرې جوړولو چل، وښود.

بیا یې و ویل:

تر یوې هفتې به خپلې ښځې ته، شیره جوړوې.

همدا راز به ورته، چرګ هلالوې.

او هغې ته به یخني ښوروا هم، ورکوې.

هغه و ویل:

سمه ده!

خو!

پیسې به، له کومه کړم؟

د نایې ښځې و ویل:

د چا نه یې پور کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

کوم وخت دې چې پیسې تر لاسه کړې، بیا به یې ورته ورکړې.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا د ناینې ښځې و ویل:

د ماشوم له پاره، څه ټوکر او جامې هم واخله.

هغه سر و خوزاوه او ویې ویل:

سمه ده!

بیا ناینې ښځه له کوټې و وته او اوا ته یې و ویل:

د کومې ستونځې په وخت کې، ما ته غږ کړه.

زه به د ستا سره، مرسته وکړم.

اوا و ویل:

سمه ده!

مننه کوم!

خدای دې تل خوشحاله، لره.

شپه شوه.

د شپې ناوخته پاچا، خپلې ښځې ته شیره توده او هغې ته یې په کوچنۍ چمچې سره په خولې کې ورکوه او د سترګو لاندې یې خپل زوی ته هم کتل، چې په زړو ټوټو (لتو) کې تاو، و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

................

شپه تېره او سهار شو.

د لمر د راوتو(ختو) سره، له کوره د باندې شو.

د کلي خلکو نه، د پور په اخيستنې يې پيل کړ.

لمړی، کلي خان (ملک) کور ته لاړ.

دروازه يې وټکوه.

دروازې ته د کلي خان زوی، راو وت.

پاچا ته يې، سلام ورکړ.

پاچا هم د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا د خان زوی و ويل:

څه دې ويل؟

پاچا و ويل:

هو!

خان صيب په کور کې شته؟

هغه و ويل:

هو!

پاچا و ويل:

غوښتل مې چې د هغه سره، و وينم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

هغه و ويل:

دروازې تر څټ ودرېږه، زه د ننه ځم او د هغه نه پوښتنه کوم.

پا چا و ويل:

سمه ده!

د خان زوی کور ته د ننه شو او څو دکيکې (دقيقې) وروسته، بېرته، ستون شو.

بيا يې، پاچا ته و ويل:

پلار مې و ويل:

ته دېرې ته لاړ شه.

الته، انتظار وکړه.

يوه ګړۍ وروسته زما پلار هم، دېرې ته راوځي.

بيا به الته، ور سره و وينې.

پاچا و ويل:

سمه ده!

بيا يې د هغه نه خدای پاماني واخيسته او دېرې خوا ته روان شو.

پاچا دېرې ته ورسېد.

د ونې لاندې يې خپل شلېدلی (شکېدلی) او زوړ څادر اوار کړ.

پر څادر کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

سوږ اوسېلی (اوف) يې وباسه او له ځانه سره يې، و ويل:

ای خدايه!

ته خپل رحم را باندې وکړه.

خپله د رحم دروازه ، زما پر مخ خلاصه کړه.

ته وينې!

زه بې له تا هيڅ څوک، نه لرم.

بيا سترګې يې د اوښکو، ډکې شوې.

د جب نه يې زوړ او دود وهلی دسمال (دستمال) راو وېست.

لمړی يې سترګې بيا يې خپله پوزه، هم پاکه کړه.

وروسته يې دسمال کات (قات) او بېرته يې په جب کې کېښود.

د ونې سيوری، خورا خوندور و.

په دې وخت کې يوه چوغکه (مرغې) د ونې په پورتنۍ څانګې کې کښېناسته.

د يوې څانګې نه يې بلې ته، ټوپ کړ.

يوه په زړه پورې څانګه يې، ومونده.

البته يې خپل وزرونه، وڅنډل.

اخوا دېخوا يې، وکتل.

پاچا ته يې، پام نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مړيه**

.................

بیا يې په سندرو(ربز) پيل کړ.

پا چا ته يې هم خوند ورکړ.

هغه هم خپلې سترګې پر مرغۍ ښخې او د هغې غږ ته يې غوږ و نيو.

په دې وخت کې د پښو ځپهار، شو.

مرغۍ د پښو غږ واورېد.

لمړی يې ځمکې ته و کاته.

سندره (ربز) يې بند کړ.

بیا د ونې نه واو لوته.

په دې وخت کې کلي ملک د کوچنې بيالې (ويالې) نه، ټوپ کړ.

هغه دېرې ته، نږدې شو.

پا چا ورته پام او له ځايه پاڅېد(ودرېد).

خان نور هم نږدې او د ايښودل شوي کټ ته، نږدې شو.

پا چا هغه خوا ته لاړ.

لمړی يې هغه ته سلام، واچوه.

خان د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بیا يې پا چا ته و ويل:

خيريت خو به وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

په شین ملا آذن کې، زما کور ته راغلی، وې؟

پا چا و ویل:

هو صیب!

خیریت و.

بیا خان و پوښتل:

چې خیریت و، نو څنګه زما کور ته راغلی، وې؟

پاچا و ویل:

لږ مې ستونزه درلوده.

خان و ویل:

وایه!

څه ستونزه؟

پاچا و ویل:

څرنګه چې خبر یاست، خدای ما ته دشپې زوی، راکړ.

خان و ویل:

هو!

خبر شوم!

مبارک دې، وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

پا چا و ويل:

مننه کوم.

بيا يې زياته کړه.

خان صيب!

زه ډېر وخت کيږي چې ستا په کلا او يوې تيارې کوټې کې ژوند کوم.

خان و ويل:

هو!

پوهيږم.

زما روزګار ډېر خوار او اتا (حتی) په کور کې ګوړه (ګړه) هم نه لرم.

پيسي خو اسې، نه لرم.

اوس خو د کار او بار وخت هم، نشته.

د ناين ښځه دې خير يوسې.

ټوله شپه يې زما د ښځې، خدمت کړی دی.

بيا د ورځې يې وغوښتل چې زما ښځې ته شيره جوړه، کړي.

زما په کور کې ګوړه، هم نه وه.

هغې ما ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

لاړ شه!

زما د کور نه دوې چکۍ ګوړه، پور راوړه.

کله چې خدای پیسې درکړې، پور به دې ادا کړې.

خان و ویل:

زما نه څه غواړې؟

پا چا و ویل:

زه غوړام چې، ما ته، څه پیسې پور راکړې.

ته خو پوهېږې چې و زه، کاریګر سړی، یم.

پور به دې، ادا کړم.

خان و ویل:

اوس خو زما سره پیسې، نه شته.

که نه، هرو مرو به مې، درکوې.

پا چا ډېر خواشینی شو.

او د بې روحه انسان په شان، په خپل ځای کې ودرېد.

بیا خان و ویل:

اوس ډېر وران (خراب) وخت دی.

اعتماد کول هم آسانه کار، نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

 څوک نه شي کولای، اتا (حتی) پر خپل سکه (اصلي) وروړ هم اعتماد وکړي.

پر بېګانوو خو، ستوزمن کار دی.

بیا هغه بیګانه چې وجه (سبب، بدیل) هم و نه لري.

سړی به یې د هغوی، کوم ځای نه پیسې، بېړته واخلي.

په دې شرایطو کې، کورونه هم په کرا دي.

مفته خبرې هم، نه کیږي.

ما خپله یوه کوټه تا ته، درکړې ده.

زه د کوټې څخه کرایه، نه اخلم.

پاچا و ویل:

هو صیب!

خدای دې تاسو ته، اجر درکړي.

په هغې دنیا کې دی، تا ته فردوس جنت په برخه، کړي.

خان و ویل:

آمین!

بیا پاچا زیاته کړه.

تاسو کوم بل څوک نه پېژنئ چې زما سره، مرسته وکړي.

خان و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

**نه!**

اوس خو یې نه پېژنم.

خان په سوچ کې شو.

څو ثانې وروسته یې، پا چا ته و ویل:

ته خو نه غوا لرې او خوسی.

ته په کور کې وګوره، که کومه اندازه ستا د ښځې ګانه وي.

پاچا و ویل:

**خان صیب!**

زما خدای ښښلي مورې، هغې ته د خپل سر وېښتانو یوه د سپینو زرو ټیکه (ماټیکه) ورکړې وه.

زه به یې، پوښتنه وکړم.

خان و ویل:

**سمه ده!**

ته کور ته لاړ شه او د ټیکې پوښتنه وکړه.

زه به ستا تر راتګ پورې پر کټ، کښېنم.

پاچا و ویل:

**سمه ده صیب!**

دوې ګامه یې نه وو اخیستي، چې خان پرې غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

زما د کور دروازه وټکوه .

هر څوک چې دروازې ته راو وت، ورته و وایه چې ما ته شین چای، دوې ګیلاسونه او یوه چکۍ ګوړه (ګړه) راولېږي.

پاچا و ویل:

سمه ده، صیب!

بیا، روان شو.

لمړی د خان کور ته، نږدې او دروازه یې وټکوه.

د خان زوی، دروازې ته راغی.

پاچا ته یې، و ویل:

بیا د څه د پاره راغلی یې؟

زما پلار خو، په دېرې کې دی.

پاچا  و ویل:

خان صیب سره مې ولیدل.

هغه د چای پسې، ولېږلم.

ته څوک، خبرو ته، نه پرېږدې.

بیا د خان زوی، و ویل:

سمه ده!

ته لاړ، شه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

زه به چای، راوړم.

پاچا و ويل:

سمه ده!

بيا خپلې کوټې ته، لاړ.

ښځه يې ويده، وه.

بيا هغې ته نږدې، شو.

هغه يې وخوزوه او له خوبه يې، را پا څوه.

هغې پاچا ته، و ويل:

خيريت خو به وي؟

پاچا و ويل:

زه سهار وختی د خان کور ته، لاړم.

تر څو، د هغه نه څه پيسې، پور واخلم.

هغه خپل زوی ته، و ويل:

پا چا ته و وايه چې، دېرې ته لاړ شئ.

زه به يوه ګړۍ وروسته، الته لاړ شم.

زه بيا الته لاړم.

ګړۍ وروسته، هغه هم، راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

ښځې يې و ويل:

بيا پور يې، درکړ؟

پاچا و ويل:

نه!

هغه، ما ته پيسې رانکړې او ډېرې بانې (بهانې) يې، وکړې.

بيا، ښځې يې و پوښتل:

پايله يې، څه شوه؟

هغه و ويل:

پيسې خو اسې (هسې) ځوک بې وزلو ته، نه ورکوي او وايي چې بيا به يې د هغه له کومه ځای نه، واخلي.

ښځې يې، و ويل:

اوس به څه چل، کېږي؟

پاچا، و ويل:

خان ما ته و ويل چې، کورته لاړ او د ښځې نه دې پوښتنه وکړه، ګوندې کومه اندازه، زر ولري.

بيا زر، کولای شي خرڅ او يا هم په ضمانت کې، کېږدې.

په دواړو حالاتو کې به دې، ستونزې حلې شي.

ښځې يې، و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

ته خپله پوهېږې چې تا ما ته د واده نه مخکې زر نه دې اخیستي.

یواځې ستا خدای بښلې مور، ما ته یوه کوچنۍ د سپینو زرو ټیکه، سوغات راکړې ده.

پاچا و پوښتل:

هغه ټیکه اوس چېرې، ده؟

ښځې یې، و ویل:

هغه مې په دسمالو کې تاوه کړې او د اوړو د کندو په منځ کې مې ایښې ده.

بیا، ښځې یې و پوښتل:

په ټیکې څه، کوې؟

پاچا و ویل:

ټیکه به چا ته په ضمانت کې ورکړم.

زه به پیسې پور او تا ته به پرې، څه سودا واخلم.

کله مې چې پیسې وګټې، بیا به پور ادا او ستا ټیکه به بېرته، راوړم. هغه به بېرته، تا ته، وسپارم.

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

بله لار، نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

نه مونږ پیسې لرو او نه زمونږ نږدې خپلوان.

پاچا د اوړو کندو ته نږدې شو.

نستوړي (لستوړي) یې بډ وهل.

د کندو سر یې لرې او د ننه یې په ځیر سره و کاته.

کوټه تیاره وه.

د کندو منځ هم، نه معلومېده.

بیا یې لاس، په کندو کې وګرځاوه.

څه یې لاس ته، را نه غلل.

د کندو ببخ ته یې، لاس نه رسېده.

هر څه خواري یې وکړه، مګر کومه ګټه یې نه درلوده.

بیا د کندو خولي ته، ټیټ شو.

د کندو د خولې نه یې غونډاري (د توپ په شان د ټوټو نه جوړ شوی څیځ) لرې او خپل لاس یې ور د ننه کړ.

لاس یې اخوا دېخوا وګرځاوه.

د کندو په یوه کونج کې، لاس یې پر پوست شي ولګېد.

هغه یې په لاس کې، ټینګ ونیو.

بیا یې له کندو څخه، راو ویست.

هغه هم د غونداري، په شان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

په اوړو سپېره مېره و.

بیا یې یوه کاسه را واخیسته، اوړه یې په کاسې کې و څنډل.

وروسته یې د ټوټو په خلاصونې، پیل کړ.

پوره دولس زړې او نوې ټوټې ترې، تاوې وې.

په پای کې ټیکه، څر ګنده شوه.

پاچا شکر وکاږه (وباسه).

هغه ډېر، خوشحاله شو.

بیا یې پر ښځې، غږ کړ.

دا دی، پیدا شوه.

ټیکه یې وخوزوه.

په دې وخت د هغه زوی د خوبه پاڅېد او په ژړا یې پیل کړ.

پاچا، هغه ته نږدې شو.

بیا، ټیکه یې وشرنګوه.

الک چوپ شو.

سوړ اوسېلي یې و باسه او ویې ویل:

اې خدایه!

ځینو ته دومره ورکوي چې په ټولولو یې نه رسېږي او ځینو نورو ته هم څه نه ورکوې، هغوی د ورځې او شپې ډوډۍ ته، حیران دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

بیا هم، شکر!

مونږ ته دي، روغ صحت په برخه کړی دی.

کېدای شئ، زمونږ خیر په بې وزلئ کې وي.

ته پر هر څه، پوهېږې.

ته زمونږ خدای او مونږ ستا بنده ګان یوو.

بیا یې ټیکه د ماشوم له سره لرې او په جب کې یې کېښوده.

ښځې ته یې و ویل:

زه اوس وځم او دېرې ته ځم.

البته، ما ته خان صیب انتظار کوي.

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

لاړ، شه!

پور واخله او کور ته سودا هم، راوړه.

پاچا و ویل:

سمه ده!

هغه د کور نه و وت او دېرې ته روان شو.

دېرې ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

خان د چای پر څښلو اخته (بوخت) و.

پاچا ور نږدې شو.

سلام یې واچوه.

خان هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا خان و پوښتل:

زمری راغلې که، ګیدړ؟

پاچا په خندا شو او ویې ویل:

زمری راغلم.

خان و ویل:

څه دې راوړي دي؟

پاچا د جبه ټیکه و وېسته او خان ته یې په لاس کې، ورکړه.

خان و خندل.

بیا یې و ویل:

بل څه دې پیدا نه کړ؟

پاچا و ویل:

نه!

یوازې دغه ټیکه، په کور کې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

هغه هم زما خدای ښنلې مور، زما ښځې ته سوغات ورکړې وه.

نور هيڅ، نه لرو.

د خدای هيله او د ابئ ګېډه.

خان و ويل:

سمه ده!

دا ټيکه دې په ضمانت ډول، زما سره وي.

زه به تا ته څه پيسې درکړم، چې ستا کار پرې وشي.

کوم و خت دې چې پيسې وګټې، بيا ته به ما ته، پيسې راکړې او زه به ستا ضمانت، بېرته درکړم.

پاچا و منه.

او ويې، ويل:

سمه ده، خان صيب!

خان پاچا ته، و ويل:

ته، دلته و وسه!

زه، کور ته ځم.

تا ته به د خپل زوی په لاس کې پيسې، درولېږم.

پاچا و ويل:

سمه ده، صيب!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

زه به، دلته انتظار، وکړم.

خان ټیکه، جب ته د ننه، سر یې ټیټ واچوه او کور ته روان شو.

څه ځنډ وروسته د هغه زوی دېرې ته راغی.

پاچا له ځایه پاڅېد.

د خان زوی، پا چا ته نږدې او هغه پیسې چې خان ورته ورکړې وې، پا چا ته یې ورکړې.

پا چا پیسې وشمېرې او د خان زوی ته یې و ویل:

دا خو ډېرې لږې، دي.

په دې پیسو به زما کار و نه شي؟

د خان زوی و ویل:

هم دومره پیسې، ما ته پلار مې راکړې وې، چې تا ته یې درکړم.

ډېرې خبرې، مه کوه.

که خوښه دې نه وي، پیسې بېرته، راکړه.

پاچا، و ویل:

نه!

کومه ستونزه، نه شته.

زه به په همدو پیسو، خپله ګذاره، وکړم.

د خان زوی، کورته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

پاچا خپل څادر پر ځمکه کېښود.

بیا پرې، کښېناست.

پیسې یې مخې ته کېښودې.

بیا یې څه پیسې د غوړو، ګوړې (ګړې) او څه یې د چرګ یخنۍ له پاره، بېلې کړې.

څه پیسې، پاتې شوې.

نورې پیسې یې په جب کې کېښودې.

او پاتې یې په لاس کې و نیوې.

له ځایه پاڅېد.

خپل څادر یې، وڅانډه.

بیا یې څادر په اوږه واچوه او د اوسېدو کوټې ته، روان شو.

کوټې ته د ننه شو.

ښځې ته یې و ویل:

ما د خان نه، څه پیسې پور، کړې.

بیا هغې و ویل:

خیر دې اوسي.

ښه شو چې پور یې، درکړ.

پاچا و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

پیسې خو یې راکړې مګر په ضمانت کې یې ستا ټیکه ستنه کړه.

هغه خواشینې شوه او څه یې و ونه ویل.

بیا، پاچا زیاته کړه.

ما څه پیسې د غوړو، ګوړې او د چرګ یخنۍ له پاره بېلې کړې.

څه لږ پیسې، پاتې دي.

پر هغو به څه وکړو؟

هغې و ویل:

پر هغو به د ماشوم له پاره لتې، سوزني (سزني، بار بند) شولېکه (شلکه)، باد برک، ماڼو، سپېلني او د ماشوم دوايي لکه چمبړخیال، زوپ، سپېرکۍ او بادیان واخلې.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا یې ټولې پیسې راټولې او په جب کې یې کېښودې.

پاچا د کوټې نه، د باندې او بازار ته، روان شو.

نیمه ګړۍ وروسته، بازار ته، ورسېد.

الته یې پر سودا اخیستو، پیل کړ.

په سودا اخیستو کې به یې، ډېرې جګړې، کوې.

کله به هټۍوالو، پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

ته ډېرې جګړې، کوې.

څومره، کنجوس سړی یې.

هغه به ویل:

ته زما له زړه، څه خبر یې.

دا پیسې، ما په پور اخیستي او په ضمانت کې مې د ښځې ټیکه ایښې ده.

هټیوال به ویل:

هو!

پیسې لاس ته راوړل، آسانه کار، نه دی.

بیا، په داسې وخت کې.

هر څوک (تن، کس) د خپلو په خولو، لوند (ډوب) دی.

ورور په ورور، اعتبار نه کوي.

پاچا ویل:

همداسې ده!

بیا یې خپله ټوله سودا د پیسو په پرتله، وکړه.

لږ دمه یې د ویالې ترغاړې، وکړه.

وروسته، کور ته، روان شو.

سودا یې کور ته، ورسوه (ورسوله).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

ټوله يې، د ښځې تر اړخ کېښوده.

خپله يې، د کوټې نه، په سوچ کې، د باندې شو.

لويې ويالې ته لاړ او د ماسپين لمانځه له پاره يې، اودس وکړ.

لمونځ يې په جمع ادا او بېرته کوټې ته، ستون شو.

اور يې بل او شيره يې خپلې ښځې ته توده او کاسې کې يې، واچوه.

د لرګو کاچوغه يې، په کې غوټه او ښخې ته يې نږدې، کړه.

بيا يې چايجوش واخيست، څه اوبه يې په کې، له کړي نه واچوې (واچولې) او په نغرې يې کېښود.

چاى يې، دم کړ.

بيا يې دوې پيالې، پرېمنځې او له چاى نه يې، ډکې کړې.

يوه پاله يې خپلې ښځې او بله يې ځانته کېښوده.

يوه چکۍ ګوړه يې له کڅوړې و باسه او د تيږې سره يې څو ټوټې کړه.

غټه ټوټه يې خپلې ښځې ته، کېښوده.

کوچنۍ ټوټې يې تر ځنګ کېښودې او پر چاى څښلو يې پيل کړ.

سړه ډوډۍ يې هم د ټکرۍ نه، واخيسته.

څه يې ښځې او نوره يې ځانته، څنګ ته، کېښوده.

په مزه، مزه يې و خوړه او ځان يې پرې، موړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

څه وخت، تېر شو.

د کار موسوم ورسېد.

هغه به ډېر کار کوه (کاوه) ترڅو پیسې و ګټې او خپل پور ادا او د ضمانت ټیکه، بېرته خپلې ښځې ته، وسپاري.

څو کاله یې کار وکړ.

پیسې یې، ټولې (غونډې) کړې.

بیا یې خان ته، و ویل:

خان صیب!

ما ستا د پور پیسې غونډې کړي دي.

غوړام تا ته یې، درکړم.

او ته به هم د وعدې سره سم، زما د ښځې ټیکه بېرته را کړې.

خان به هسې اخوا دېخوا بهانې، کوې.

زړه یې نه غوښتل، ټیکه بېرته ورکړي.

پا چا به هم هرکله، خان ته یادونه کوه.

یوه ورځ خان ډېر په غصه و.

هغه په دېرې کې ناست و.

پا چا پر لاره تېرېده او ناڅاپه یې سترګې پر خان، ولګېدې.

هغه هم دېرې ته، لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

لمړۍ يې خان ته سلام ورکړ.

خان د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيايې، له پاچا و پوښتل:

خيريت خو به وي ، چې دېخوا راغلې؟

پاچا و ويل:

هو!

خيريت دی!

هماغه، کيسه ده.

يانې پيسې او ټيکه.

خان هسې په غصه و.

د دې خبرې په اورېدو سره، نور هم غصه يې ډېره شوه او ويې ويل:

چابکه پيسې راوړه.

هغه هم په منډو کوټې ته، لاړ.

پيسې يې را واخيستې او خان ته يې په منډو دېرې ته، يوړې.

خان پيسې واخيستې او هغه ته يې و ويل:

لاړ شه !

زما زوی ته، غږ کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

پاچا د خان کورته، لاړ او دروازه يې وټکوه.

د خان زوی، دروازې ته راغی.

دروازه يې خلاصه کړه.

د دروازې تر شېټ يې وليد چې پاچا ولاړ دی.

هغه ته يې، سلام ورکړ.

پاچا سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې زياته کړه:

خان صيب په دېرې کې ناست او تا ځانته دې، غواړي.

الک و ويل:

سمه ده!

واسکټ مې، اغوندم.

ژر در ځم.

پاچا و ويل:

سمه ده!

پاچا بېرته، دېرې ته روان شو.

خان ته يې و ويل:

هغه اوس راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

په همدې وخت کې د خان زوی، دېرې ته ورسېد.

پلار ته یې سلام، ورکړ.

هغه، سلام ته یې، وعلیکم و ویل.

بیا یې، و ویل:

کور ته لاړ، شه!

مور ته دې و وایه چې د پاچا ټیکه درکړي!

بیا هغه دلته راوړه.

الک و ویل:

سمه ده!

الک کور ته، لاړ.

څو دکیکې (دقیقې) وروسته، ستون شو.

ټیکه یې په لاس کې نیولې او خان ته یې ورکړه.

خان هم ټیکه واخیسته او پاچا ته یې غږ کړ.

واخله!

کنجوسه!

دا دې، ټیکه!

عاجله به کوټه تشوې او له دې ځایه (کلا) نه به ځان، ورکوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا و ویل:

زما ښځه، ناروغه (ښه نه) ده.

ځو ورځې ما ته وخت راکړه، تر څو بل ځای، پیدا کړم.

خان و ویل:

نه!

هېڅ یې، نه منم.

همدا اوس به له دې ځای نه، ځان ورکوې.

او که په خبرې، نه شوې.

بیا دې تلټک د کلا نه د باندې غورځوم.

پاچا هر څه زارۍ وکړې، مګر ځای یې و نه نیو.

بیا خواشینی، کوټې ته لاړ.

ښځې یې و ویل:

ټیکه دې راوړه؟

هغه و ویل:

هو!

خو!

ښځې یې، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

خو، څنګه؟

پاچا و ویل:

خان مونږ ته د کوټې نه، څواب راکړ.

ښځه یې په ژړا شوه او ویې ویل:

ته ورته، عذراوزارۍ، وکړه.

پا چا و ویل:

ما ډېر عذر وکړ، هغه یې نه مني.

بیا ښځې یې و ویل:

ته د جومات ملا صیب ته په دې هکله و وایه، ګوندې د هغه خبره و مني.

پا چا جومات ته لاړ او ټوله کیسه یې د جومات ملا صیب ته، وکړه.

هغه د خان کور ته لاړ.

څو دکیکې یې د خان سره خبرې، وکړې.

کوم ځای یې، و نه نیو.

بیا یې ترې د درې ورځو له پاره وخت واخیست، تر څو پاچا، ځانته

کوم بل ځای کوټه پیدا کړي.

خان و منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

پاچا ته يې د درې ورځو وخت ورکړ، ترڅو ځان ته، بل ځای پيدا کړي.

د جومات ملا امام د خان نه مننه او د هغه د کورنه و وت.

وخت مازيګر او د لمانځه وخت و.

پا چا هم په جومات کې ناست و.

ملا امام پاچا ته و ويل:

ما درته، د درې ورځو وخت، واخيست.

ته کولای شئ د اوسېدو له پاره، کوم بل ځای و مومې؛

پاچا و ويل:

سمه ده!

مننه کوم.

د لمانځه اداکولو نه وروسته، خپلې کوټې ته لاړ.

التنه يې خبره د ښځې سره ګډه (شريکه) کړه.

ښځې يې و ويل:

ښه به وې سبا وختي د لغمان ولايت قرغيو ولسوالۍ او زما خور کور ته، لاړ شئ.

هغه دوې کوټې، لري.

کېدای شي، يوه يې مونږ ته، راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

پا چا و ويل:

سمه ده!

شپه يې په سوچونو، سبا کړه او سهار وختي يې په پښو حرکت وکړ.

ماښام تېر د قرغيو ولسوالۍ او خپلې ښينې (د ښځې خور) کور ته، ورسېد.

د کلا لويه دروازه، خلاصه وه.

هغه هم کلا ته د ننه، بيا د ښينې کوټې دروازې ته، ودرېد.

د دروازې د سورې نه يې رڼا په سترګو شوه.

پوې شو چې څوک په کوټې کې، دې.

بيا يې دروازه وټکوه.

اوښې (اخشې، د ښځې د خور مېړه، باجه) يې دروازه خلاصه کړه.

پاچا سلام، ورکړ.

هغه د پاچا سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې ورته و ويل:

د ننه راشه!

هغه پر خپلې ښځې، غږ کړ.

پوهېږې، څوک راغلی دی؟

هغې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

هو!

دا خو پاچا او زما اوښی، دی.

بیا یې هغه ته، و ویل:

دلته پر توشکې کښېنه.

هغه هم پر توشکې کښېناست.

هغوی ورته لمړی سابه او جواری راوړ، بیا یې چای ورته، نږدې کړ.

پاچا ډېر وږی او تږی شوی و.

سابه او جواری یې، په خوند سره وخوړل.

بیا یې کیسې، پیل کړې.

د خپل زوی یې، هم یادونه وکړه.

هغوی خوشحاله او پاچا ته یې مبارکي، و ویلې.

هغه هم، مننه وکړه.

بیا یې د کور په هکله لنډه کیسه وکړه.

اوښی یې و ویل:

ته پوهېږې چې کور، د خان دی.

مونږ دوې کوټې لرو.

که هغه ومني، په دواړو سترګو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

بیا یې ښیېنې و ویل:

ته سوچ مه کوه.

زه همدا اوس د خان کور ته ځم او د هغه د ښځې سره، خبرې کوم.

ښینه یې د خان کورته، لاړه.

هغې د خان ښځې سره، خبره ګډه (شریکه) کړه.

د خان ښځې، و پوښتل:

هغوی څو ماشومان لري؟

هغې  و ویل:

یواځې یوه ماشوم.

بیا یې وپوښتل:

په لرګیو ماتولو او د کلا په نورو دندو کې خو به مرسته کوي.

هغې و ویل:

پاچا ډېر نیک، سړی دی.

هغه په ټولنیزو دندو(کارونو) کې ډېر بلد اوهیڅ کار ته نه، نه وایي.

بیا د خان ښځې و ویل:

سمه ده!

زه خان صیب ته، و وایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

ته دلته کښېنه!

د خان ښځه د خان کوټې ته د ننه شوه.

هغه، راډيو ته غوږ نيولی و.

د خان ښځه د هغه اړخ ته، کښېناسته او د پاچا کيسه يې هغه ته وکړه.

خان خپلې ښځې خبره و منه.

بيا د خان ښځه بېرته ستنه او په خوشحالۍ يې د پاچا ښېنې ته و ويل:

خان صيب ومنه (ومنله).

ته کولای شې، پاچا ته و وايې.

هغې مننه، وکړه.

بيا د خان د کور نه و وته او خپلې کوټې ته لاړه.

پاچا ته يې و ويل:

هغوی ومنه.

ته کولای شئ، خپل کالي بار او دلته يې راوړې.

پاچا خوشحاله شو.

د خپلې ښېنې نه يې مننه، وکړه.

ښېنې يې و ويل:

ته اوس بيده او سهار وختي خپلې سيمې ته، لاړ شه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

کالي دې بار، بيا يې دلته، راوړه.

مونږ به هم تا ته، دوېيمه کوټه پاکه کړو.

اضاپي (اضافي) شيان به، دې کوټې ته، راوړو.

پاچا ډېر خوشحاله، شو.

هغه و ويل:

خدايه!

شکر!

بې له شکه چې، رحيم او رحمن يې.

شپه يې الته تېره او سهار وختي خپلې سيمې مخه يې، ونيوه.

د سهار لمونځ يې هم په لار کې، وکړ.

ماښام تېر، خپلې سيمې ته، ورسېد.

بيا يې ښځې ته د خوښۍ زېرى، ورکړ.

هغه هم، خوشحاله شوه.

سبا يې د ګاونډيو نه دوې خره وغوښتل او خپله کډه يې پرې، بار کړه.

د کور او کلي خلکو نه يې خداى پاماني واخيسته او مخ په لغمان يې، حرکت وکړ.

پاچا په لاره کې، ښه بلد شوى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

هغه لنډې لارې و مومې او ماښام يې ځان، خپلې ښينې کورته و رساوه.

کالي يې کوز او کوټې ته يې د ننه، کړل.

بيا خره يې د کلې په غوجلې کې، وتړل.

شپه يې تېره او سهار يې خپل کالي په کوټې کې ځای پر ځای او خپل نوی ژوند يې، پيل کړ.

يوه ورځ يې تېري بيا د پخواني ځای ګاونډيو خره يې ببرته مخکې او خپله يې هم ورسره، روان شو.

ماښام الته ورسېد او خره يې د هغوی خاوندانو ته، وسپارل.

شپې ډوډۍ يې د يوه ګاونډي په کوټې کې وخوړه او بيا وروسته د جومات په وجرې کې، بيده شو.

سهار وختي يې لمونځ په جمع ادا، بيا يې چاې د جومات ملا امام سره وڅښه.

د جومات ملا امام سره څه ګپې ولګوې، بيا د هغه نه يې، مننه او رخصت، واخيست.

لږ وروسته يې د څه پخوانيو ګاونډيو نه د تل له پاره، خدای پا ماني واخيسته او خپلې اوسېدو سيمی په لور، روان شو.

هغه به تل کار کوه او پيسې به يې غونډوې.

زوی يې هم ورو، ورو لوېده.

څو کاله وروسته، هغه ته خدای يوه ښکلې لور هم ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

داځل ناېڼ ښځې د بادام مور ته د سنځلې ګل نه ډکه ځانګه ورکړه او هغې ته يې، مبارکي و ويله.

هغې هم پر خپلې لور نوم، سنځله کېښوده.

نجلۍ هم د سنځلي په شان ښايسته وه.

پاچا به، ډېرې خوارې، کوې.

هغه سپين ږيرى شوى و.

ځو كاله تېر شو.

هغه په تاوون مرض، اخته شو.

ځو اونۍ وروسته، مړ شو.

ښځه يې كونډه شوه.

هغې زوى او لور درلود.

هغه ځوانه، وه.

كال تېر شو.

د خلكو په مشورو يې بل مېړه، وكړ.

مېړه يې ډېر سپين ږيرى او كهرجن (قهرجن) سړى و.

هغه به تل د ماشومانو سره، ناوړه چلند كوه.

پر هغوى به يې، كار هم كاوه.

ماشومان، لوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

ښوونځی هم نړدې، نه وه.

سپين ږيري پر هغوی ديني زده کړې هم و نه کړې.

هغه تل يوې او بلې خوا ګرځېد.

د کار نه به يې خبرې او غصې ډېرې، وې.

ماشومان لږ، چورپه شو.

دباندې به، خلکو زورل او هغوی ته به يې ويل:

مور مو، ښه ښځه ده.

د مور مېږه (پلندر) مو، ډېر وران سړی دی.

هغوی د مور د مېږه په مانا (معنی) نه پوهېدل.

پلندر به يې تل پر هغوی ظلم کاوه.

سترګې به يې پرې، برګوې( باسې).

پر هغوی به يې د خلکو په مخ کې وارونه، کول.

بادام، لږ غټ او د دولسو کالو، شو.

پلندر يې هغه د يوه کس سره چې ځمکه يې درلوده، مزدور کړ.

د مزدورۍ پيسې به يې په خپل جب کې اېښودې.

د ماشومانو عقده ورځ تر بلې د هغه سره، ډېرېده.

سنځله هم د څوارلسو کالو، شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

د مور مېږه (پلندر) يې هغه يوه سړي ته د پيسو په بدل (پرتله ، مقابل) کې ورکړه.

هغه سړي هم ډېرش کلن و.

پر بادام به يې مزدورۍ، کوې.

بادام، ځوان شو.

هغه پوی شو چې، د مورمېږه (پلندر)، څه ته، وايي.

بادام هم د هغه خبره، نه منه.

پيسې به يې ټولوې او خپلې مور ته به يې، ورکوې.

څه وخت تېر شو.

مور يې هم مړه شوه.

هغه يې خاورو ته، وسپاره(وسپارله).

کله، کله به يې پلار او مور قبرو ته د خپلې خور يانې سنځلې سره، ته او هغوی ته به يې دعاوې کوې.

کال وروسته د مور مېږه (پلندر) يې هم، مړ شو.

بادام هغه يې هم خاورو ته وسپاره او له شر(جنجال) څخه يې د تل له پاره، خلاص شو.

بادام پوره زلمی، شو.

پيسې يې ټولې او واده يې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

خدای، هغه او د هغه خور ته، ماشومان ور په برخه کړل.

بادام او سنځله دواړه ژوندي او عمرونه يې تر شپېتو کالو اوښتي دي.

هغوی اوس هم د لغمان ولايت په قرغيو ولسوالۍ کې، ژوند کوي.

خپل د ختېو کوشني کورنه، لري.

بادام، څه ځمکه يې هم، اخيستې ده.

هغه پر خپله ځمکه او څه ځمکه يې چې په اجاره د بل کس نه، نيولي ده، کرنه کوي.

هغوی په خپل ژوند کې خوشحاله، دي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېږه**

.................

## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي (برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان، بر بر در فن معماری و معماری
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېړه**

.................

٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پيل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه تولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کرنلاره د معمارانو او اېنجینېرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)،(پښتو ناول)
٧٠. د مور مېره (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

**د کار لاندې کتابونو لپست**

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
۲. لیونی لېوه
۳. د خاورو لاندې ښار
۴. سپین کارغه
۵. سور تنور
۶. خړه بیزو
۷. بندي مرغه
۸. توده برستن
۱۰. بې وخته باران
۱۱. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور مېره**

.................

## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Mother's Husband

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** March – April /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**